NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE

# د افغانستان د ۲۰۱۴ کال ټاکنو په اړه وروستي مالومات

**د ۲۰۱۴ کال د مې میاشتې ۲۱ مه ۲۴ ورځې تر دویم پړاوو ټاکنو پورې.**

**ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ (NDI) په افغانستان کې د کتنې یو ماموریت په لاره اچولی او په ترڅ کې یې په دې هېواد کې د اپرېل میاشتې د ۵ مې (د ورې میاشتې دې ۱۶ مې) نېټې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو له لړۍ څخه دمخه، په بهیر کې او وروسته شننه ترسره کوي.**

## د دویم پړاوو ټاکنیزو سیالیو په رارسېدو سره، نوماندي د خپلو پخوانیو سیالانو د ملاتړ ترلاسه کولو په هڅه کې دي

د اشرف غني احمدزي او د عبدالله عبدالله کمپاین کوونکي د ټاکنو د دویم پړاوو له پیل کېدو دمخه چې د جون په ۱۴مه نېټه دی، غواړي چې خپل ملاتړ د رأیه اچوونکو، سیاسي ګوندونو او همفکره سیاستوالو په منځ کې پیاوړی کړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اپریل د ۵ مې نېټې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون (IECC) لخوا د لمړنیو پایلو پورې اړوندو شکایتونو په اړه له پرېکړې کولو وروسته، د مې میاشتې په ۱۵مه نېټه اعلان کړې. د ټاکنو ورستیو پایلو په ډاګه کړه چې ډاکټر عبدالله عبدالله ۴۵ سلنه رأیې او اشرف غني احمدزي ۳۱،۵۶ سلنه رأیې تر لاسه کړې وې.

د دواړو کمپاین کوونکو ډلو غړو تېره اونۍ د تېر پړاوو د ولسمشریزو ټاکنو نوماند عبدالرب رسول سیاف له استازو سره د ټاکنو په دویم پړاو کې د نوموړي د ملاتړ ترلاسه کولو په هیله لیده کاته وکړل. سیاف په لمړي پړاوو کې ۷،۰۴ سلنه رأیې ترلاسه کړې وې چې د ۸ نوماندو له ډلې څخه یې ۴ ځای خپل کړی وه.

عبدالله د مې د میاشتي په ۱۱مه نېټه هغه مهال یو لوی ملاتړ ترلاسه کړ کله چې زلمي رسول، هغه کس چې په لمړي پړاوو ټاکنو کې یې دریم ځای درلود، خپل ملاتړ له عبدالله څخه اعلان کړو. د زلمي رسول ملاتړ عبدالله لپاره په سویلي ولایتونو کې ډېر مهمه بلل کېدای شي. د بېلګې په توګه، د قندهار په ولایت کې، زلمي رسول ۵۳،۶۱ سلنه رأیې ترلاسه کړې وې پداسې حال کېچې عبدالله یواځې ۱۰،۶۱ سلنې رأیې او غني ۱۳،۹ سلنه رأي په نوموړې ولایت کې خپلې کړې وې.

د ولسمشریزو ټاکنو د لمړي پړاوو بل نوماند محمد شفیق ګل آغا شیرزي هم خپل ملاتړ له ډاکټر عبدالله څخه اعلان کړ. که څه هم شیرزي د هېواد په کچه یواځې ۱،۶ سلنه رأیې ترلاسه کړې وې، خو نوموړي به وکولای شي چې په سویلي سیمه کې د خلکو رأیې د عبدالله خواته راوکاږي. شیرزي، چې په لمړي پړاوو ټاکنو کې د هېواد په کچه کې شپږم ځای ترلاسه کړی وه او په قندهار ولایت کې له رسول څخه وروسته دویم وه، د اړوند ولایت ۱۶،۰۲ سلنه رأیې یې خپلې کړې وې. همدارنګه، شیرزي ۱۲،۹۸ سلنه رأیې د هلمند په ولایت کې او ۱۴،۹۳ سلنه رأیې د اُرزګان په ولایت کې ترلاسه کړې وې.

د زلمي رسول او شیرزي د کمپاین د ټیمونو په منځ کې په دې اړه چې له چا څخه باید ملاتړ وکړي، اختلاف شتون لري. د رسول لمړی مرستیال، احمد ضیاء مسعود د عبدالله ملاتړ ونکړ او د هغوی په ګډ خبري کنفرانس کې یې هم برخه وانخیسته. په داسې حال چې، شیرزي خپله خپل ملاتړ له عبدالله څخه اعلان کړ، خو د نوموړي د کمپاین ۲۰ تنه ولایتي مسئولین په کابل کې سره راغونډ شول ترڅو خپل ملاتړ له اشرف غني څخه اعلان کړي.

کله چې د مې په ۲۱ مه داود سلطان زوی اعلان وکړ چې په دویم پړاو ټاکنو کې به له اشرف غني څخه ملاتړ کوي، اشرف غني د لمړي ځل لپاره د یوه ولسمشریز نوماند ملاتړ خپل کړ. سلطان زوی په لمړي پړاوو کې د ۰،۴۶ سلنه رأیو په ترلاسه کولو سره، اووم ځای خپل کړی وه.



عبدالله عبدالله ، د ټاکنو دخپلواک کمېسیون رئیس یوسف نورستاني او اشرف غني احمدزی د مې د میاشتې په ۱۷مه نېټه د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په مرکزي دفتر کې د ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو په اړه ناستې پر مهال!

سرچینه: د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د فیسبوک پاڼه

## د ولايتي شوراګانو لومړنۍ پايلې په داسې حال کې اعلان شوې چې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون خپلو څېړنو ته دوام ورکوي

د ټاکنو خپلواک کمېسيون(IEC) د مې په ۲۰ نېټه د ولايتي شوراګانو د ټاکنو پايلې اعلان کړې، په داسې حال کې چې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون(IECC) شاوخوا د ۱،۰۰۰ شکايتونو طې مراحل کولو ته دوام ورکوي.

د مې په ۱۱نېټه د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون خپل ولايتي دفترونو ته لارښوونه وکړه ترڅو خپلې څېړنې بشپړې او پايلې يې د ارزونې او وروستې پرېکړې لپاره کابل ته راوليږي. د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون ولايتي دفترونو(PIECC) اړوندې پايلې د مې په ۱۹ نېټه مرکزي دفتر ته راواستولې.

په بلخ کې د ټاکنيزو شکايتونو ولايتي دفتر ۱۰داسې شکايتونه ترلاسه کړل چې په "الف يا A" يا هغه کتګورۍ کې راتلل کوم چې پر وروستيو پايلو اغېزه کولای شي. په غور کې د ټاکنيزو شکايتونو ولايتي دفتر د رأيو۶۱ صندوقونه له سره وشمېرل او پايلې يې د وروستۍ ارزونې لپاره کابل ته راوليږلې. د ټاکنيزو شکايتونو ولايتي دفتر د هغه سيمې د رأيو څلور صندوقونه باطل اعلان کړل، چېرته چې د ټاکنو په ورځ طالبانو بريد وکړ او ټاکنيز کارکوونکي يې تېښتې ته اړ کړل. په لغمان کې د ټاکنيزو شکايتونو ولايتي دفتر د هغه سيمو د رأيو صندوقونه باطل کړل چېرته چې د رأيې اچونې محلونه بند وو.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د لومړنيو پايلو په اړه د شکايتونو ثبتول د پايلو له اعلان څخه وروسته د ۲۴ ساعتونو پورې منې. وروسته له هغه، د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون اړوند شکايتونه څېړي او خپلې پرېکړې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته وړاندې کوي، تمه کېږي چې د ولايتي شوراګانو د ټاکنو وروستۍ پايلې د جون په ۷ نېټه اعلان شي.

## د ټاکنو د دويم پړاو په اړه د ټاکنو څخه د کورنيو کتوونکو ډلو خپلې سپارښتنې وړاندې کړې

د ټاکنو څخه د کورنيو کتونکو ادارو يوه ائتلاف د ټاکنو خپلواک کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ته د ولسمشريزو ټاکنو د دويم پړاو د ښه والي په موخه يو لړ سپارښتنې وړاندې کړې. اړوندې سپارښتنې لاندې ټکي رانغاړي:

- د شکايتونو په اړه د پرېکړې کولو په لړۍ کې د روڼتيا د زياتولو په موخه، د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون بايد کتونکو ته اجازه ورکړي ترڅو د شکايتونو په اړه د پرېکړې کولو له لړۍ څخه څارنه وکړي.

- کله چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ښځينه وو د رأيې اچوونې په محلونو کې نارينه کارکوونکي ګوماري، نو بايد کتونکو ادارو ته خبر ورکړي. د ټاکنو په لومړي پړاوو کې، ځينو ښځينه کتونکو د رأيې اچوونې هغه محلونو ته له تلو څخه ډډه کوله چې کارکوونکي يې نارينه وو.

- د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد د دويم پړاوو ټاکنو لپاره نوي څارونکو ته باورليکونه ورکړي. لکه څنګه چې ښايي هغه څارونکي چې د ټاکنو په لومړي پړاوو کې يې له نوماندو سره تړاوو درلود، د ټاکنو په دويم پړاوو کې ګډون ونکړي،نو له دې امله اضافي کتونکو ته به اړتيا وي.

- امنيتي ځواکونه بايد هغسې مسلکې چلند وکړي له څنګه چې يې د ټاکنو په لومړي پړاوو کې وکړو. سربيره پر دې، ټولنيز مشران او د مدني ټولنو اداري بايد د رأيې اچوونې د ښځينه محلونو لپاره د ښځينه پلټونکو په ګومارلو کې مرسته وکړي.

- رسنۍ بايد د ټاکنو اړوند پرمختګونو په اړه د خلکو خبرولو ته دوام ورکړي او افغانان وهڅوي چې په ټاکنو کې ګډون وکړي. سربيره پر دې، د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د رسنيو کمېسيون بايد د رسنيو څارلو ته دوام ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې رسنۍ د هېواد له قوانينو او مقرراتو سره سمې پرمخ ځي.

### وروستي لنډ ملومات

- طلوع نيوز خبر ورکړ چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د مې په ۱۸ نېټه يې خپلو کارکوونکو ته خبرداری ورکړ چې، که چېرې د ولسمشريزو ټاکنو په دويم پړاوو کې د هغوی تر څارنې لاندې سيمو کې درغلۍ وشي، نو هغوی به له دندو ګوښه کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د لومړي پړاوو ټاکنو پر مهال شاوخوا ۳،۳۰۰ تنه هغه کارکوونکي له دندو ګوښه کړل چې په ګډوډيو کې ښکېل وو.
- ټول هغه توکي چې د ټاکنو د دويم پړاوو لپاره له هېواد څخه بهر برابر شوي وو، د مې په ۱۲ نېټه کابل ته راورسېدل. ټاکنيزو کارکوونکو د توکو بسته بندي د مې په ۱۴ نېټه پيل کړه.
- طلوع نيوز خبر ورکړ چې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون اعلان وکړ چې پلان لري د ولسمشريزو ټاکنو د دويم پړاوو ټاکنو لپاره تر ۴،۰۰۰ پورې د رأيې اچوونې نوي محلونه پرانيزي. په لومړي پړاوو ټاکنو کې د رأيې اچوونې ۲۰۵۶۱ محلونه پرانيستي وو، که څه هم په ۷۷۷ محلونو کې رپوټ له مخې هېڅ رأيې اچوونه نه وه شوې.
- د هغه مهالويش پر بنسټ چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا چمتو شوی، د ولسمشريزو ټاکنو دويم پړاوو به د جون په ۱۴ نېټه ترسره شي او لومړنې پايلې به يې د جولای په ۲ نېټه اعلان شي. د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون به د شکايتونو په اړه خپلې وروستۍ پرېکړې د جولای تر ۱۶ نېټې پورې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته واستوي او ورستۍ پايلې به به د جولای په ۱۷ نېټه اعلان شي.

په افغانستان کې د ۱۳۹۳ کال له ټاکنو څخه د کتنې - شننې نړيوال ماموريت
د لازياتو مالوماتو لپار له: **AfghanElections2014@ndi.org** سره په اړيکه کې شئ
کابل: **+93 (0) 794-713-033** واشنګټن ډي سي: **+1 202-728-5541**
له: **NDI.org** او **AfghanistanElectionData.org** څخه ليدنه وکړئ